# سومین پلینوم کمیته مرکزی
# حزب دموکراتیک خلق افغانستان

د افغانستان د خلک دموکراتیک گوند د مرکزی کمیټی دریم پلینوم د **۱۳۵۹** کال د **اسد** په **لومړی** نیټه جوړ شو.
په دغه پلینوم کی د افغانستان د خلک دموکراتیک گوند د مرکزی کمیټی عمومی منشی د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا رئیس او صدراعظم ببرک کارمل د انقلاب ضد قوتونو پر خلاف مبارزی د زیاتیدو او د وسله وال پوځ او د دولتی امنیتی قوتونو او ټولنیز نظام د پیاوړتیا په خاطر د گوند او دولت د وظیفو په باره کی یوه وینا وکړه.
په پلینوم کی د مرکزی کمیټی یو شمیر غړیو د ولایتی کمیټو منشیانو د دولتی اطلاعاتو د خدمتونو او څارندوی ځینی مسئوولینو، افسرانو او گوندی کدرونو په پوره دموکراتیک او آزاده فضا کی په مسالو او ستونزو باندی د خبرو په ترځ کی د ببرک کارمل د وینا په تایید ویناوی وکړی او د هغو وظیفو د تطبیق په برخه کی پیشنهادونه وړاندی شول چی د ببرک کارمل په وینا کی منعکس شوی وی.
پلینوم د پوره او ټینگ یووالی په فضا کی جوړ شو د ببرک کارمل د وینا مطالب او استنباطونه د پلینوم د غړو له خوا په انقلابی شور او احساساتو او پرله پسی چکچکو سره د رایو په اتفاق پوره تایید شول او په دی برخه کی په پلینوم کی یوه مصوبه د رایو په اتفاق تصویب شوه.
د افغانستان د خلک د دموکراتیک گوند د مرکزی کمیټی **دریم پلینوم** د انقلاب ضد پرخلاف او د وسله وال پوځ، د دولتی امنیت د مقاماتو او د ټولنیز انتقام د مقاماتو د پیاوړتیا په لاره کی د گوند، او دولت د ومبارزی د زیاتیدو مهمی مسالی وڅیړلی.
پلینوم د پوره یووالی او پیوستون په فضا کی جوړ شو د پلینوم ټولو برخه والو په وینا کی درج شوی مسالی او استنباطونه پوره او بیخی تایید کړل.
په پلینوم کی ټینگار وشو چی د ثور انقلاب د دویم پړاو له پیل څخه تر اوسه پوری د انقلاب د سیاسی، اقتصادی او ټولنیزو بنیگڼو د ټینگتیا او پراختیا په لاره کی گټور کارونه شوی.
په گوندی سازمانونو کی ورځ په ورځ د یووالی او پیوستون روحیه ټینگیږی او د هغوی د مبارزی ظرفیت لوړیږی، له گټی اخیستنی او ستم څخه د خلاصی نوی ټولنی د جوړولو په خاطر په یوه غښتلی قوت باندی د افغانستان د ټولو دموکراتیکو او وطن پالو قوتونو تمرکز دوام لری، د هیواد د اقتصادی پرمختیا پلانونه د عمل په ساحه کی پلی شوی او د ښوونی او روزنی، عامی روغتیا فرهنگ او هنر د پرمختیا له پاره نوی امکانات برابر شوی دی، د افغانستان ټولو خلکو او قومونو او زموږ د ټولنی ټولو وطن پالو طبقو د دی امکان پیدا کړی چی ازادانه په سوله او امنیت کی د خپلو دودونو په ساتلو سره ژوند وکړی، دولت د اسلام د مقدس دین مصئونیت او د مذهبی مراسمو د اجرا آزادی تضمینوی، د افغانستان د خلک دموکراتیک گوند پر له پسی د دموکراتیکو اصولو او انقلابی قانونیت د سیاست جدی مراعات کوی.
د افغانستان د دموکراتیک جمهوری حکومت د سیمی د هیوادو د ترمنځ روابطو د ښه والی او د افغانستان د سرحدونو په ساحه کی د انقلابی ضد باندونو د اډو د لغوه کولو په برخه کی په نوښتونو لاس پوری کړ چی د نړی ټولو مخکښو قوتونو یی ننگه وکړه او مینه یی ورسره وښوده.
د ثور انقلاب د دویمی کالیزی په مناسبت د مرکزی کمیټی په **تیزسونو** کی چی زموږ د گوند د **مرام** حیثیت لری د افغانستان د خلکو او ټولو نړی والو په وړاندی د گوند **هدفونه** او **وظیفی**

اعلام شوی **زمونږ ډیر لوړ هدف** د خلکو د مادی او معنوی ژوندانه د سطحی لوړول او د افغانستان د هری کورنی د نیکمرغی او سوکالی تامین دی. زمونږ خلکو په غوڅه توګه د دموکراسی او ټولنیزی ترقی لاره، د نوی او عادلانه ټولنی د جوړولو لاره غوره کړیده داچی د خلکو پراخه پرګنی د نوی ټولنی د جوړولو او د انقلاب د ښیګڼو د دفاع په لاره کی هلی ځلی او مبارزه کوی د پورتنی خبری مصداق دی.

د ښوونکو کنګره، د ښار او کابل ولایت د ګوندی فعالینو او کدرونو غونډه، د طب د کارکوونکو کنګره او د عالمانو او روحانیونو جرګه او د افغانستان د وزارتونو، ادارو او دولتی موسسو، د ګټورتوب او فعالیت د لوړتیا جرګه او د ګوند او دولت د تګلاری د ننګی په خاطر په ښارونو او کلیو کی د خلکو غونډی او میټنګونه دغه کار په ډیر ښه توګه تاییدوی.

هغه مثبت سیاسی، ټولنیز او اقتصادی بدلونونه چی په افغانی ټولنه کی راځی د خلکو د پراخو پرګنو له دیموکراتیکو او ملی ارمانونو سره بیخی سم دی.

ټول مترقی بشریت د افغانستان د خلکو د ډیر وینو بچیانو په قهرمانیو باندی چی د ترقی او پرمختګ په لور ټینګ ګامونه اخلی خوشحالیږی.

د افغانستان خلک ډیر ښه پوهیږی چی زموږ د ثور انقلاب د ښیګڼو د دفاع په برخه کی دغه بریالیتوبونه د خپل ګاونډی او ستر دوست شوروی اتحاد په انترناسیونالیستی مرسته را په برخه شویدی. خو د ثور انقلاب بریالیتوبونه د امپریالیستی ټولنو او د سیمی د ارتجاع له هدفونو او نقشو سره سم نه دی نو له دی امله دوی زموږ د خلکو او زموږ د انقلاب د ښیګڼو پر خلاف نه اعلام شوی جګړه پیل کړیده څکه د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د سیاسی ټولنیزو بنسټونو د ټینګیدو زغم نه شی کولی.

د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند د مرکزی کمیټی په پلینوم کی په خوښی سره وویل شول چی د انقلابیونو ضد سړی وژونکو سترو باندونو ته مرګونی ګوزارونه ورکړ شویدی او د هغو ګن شمیر بیخی له منځه تللی دی، د هغوی لاس وهونکو او انډیوالانو ته د سر بی شمیره زیان رسیدلی دی.

په عین حال پلینوم وویل چی له انقلاب ضد سره په مبارزه کی چی د امپریالیستی دولتونو او د سیمی د ارتجاعی رژیمونو له خوا په وسلو سمبالیږی ډیر کارونه پاتی دی.

د انقلابیونو ضد باندونه د فیوډالانو د حاکمیت د بیا را مینځته کیدو او د ثور انقلاب د ښیګڼو دزندی کولو په خاطر، د خلکو په ترور، لوټ ماری، او ورانکاری لاس پوری کوی.

انقلابی ضد قوتونه پدغه شان انسانی ضد کارونو باندی په لاس پوری کولو سره غواړی زموږ د زیارایستونکو خلکو سوله او آرامی ګډوډه کړی. د افغانستان د خلکو د سوکالی او نیکمرغی په لاره کی د ګوند د ټولنیزو او اقتصادی پلانونو او هدفونو د تحقق په لاره کی خنډ شی.

پدغه شان شرایطو کی د انقلاب ضد پرخلاف وسله واله بریالی مبارزه او د هغوی غوڅه ماتی زموږ د ګوند او ټولو خلکو له پاره زیات ارزښت پیدا کوی.

هغه تدبیرونه چی د مرکزی کمیټی له خوا د انقلاب ضد پرخلاف مبارزی د زیاتیدو او په هیواد کی د انقلابی نظام د ټینګیدو له پاره طرحه شوی وو ضرور او پر ځای وو.

د خلکو د پرګنو له ملاتړ سره یوځای ددغو تدبیرونو عملی کول ددی امکان پیدا کوی چی وسله وال سړی وژونکی باندونه له مینځه لاړ شی او د افغانستان د خلکو د ژوندانه د سطحی د لوړولو په خاطر د هیواد اقتصاد او فرهنګ بریالی پرمختیا وکړی.

د مرکزی کمیټی پلینوم د وسله والو باندونو او د انقلابیونو ضد پټو سازمانونو د بیخی ماتی په لاره کی د ګوند او خلکو ټول قوت منظمول په اوسنیو شرایطو کی د افغانستان د خلک د دموکراتیک ګوند ډیره مهمه وظیفه وبلله.

دغه راز پلینوم څرګنده کړه چی د ګوندی کمیټو او لومړنیو سازمانونو او دولتی مقاماتو ټول سازمانی او سیاسی فعالیتونه باید د انقلاب ضد د پوره له مینځه وړلو په لاره کی د ګوند او خلکو د ټول قوت منظمولو، تر شعار لاندی تنظیم شی.

پلینوم له ټولو ولایتي ښاري، ناحیوي کمیټو، او ګوندي لومړنیو سازمانونو څخه وغوښتل چې د ګوند د صفوفو کلک یووالي ټینګ کړي او هغه فرکسیون بازي چې د ګوند یووالي او یوموټي والي ته زیان رسوي له مینځه یوسي.
د ګوند هغه شمیر غړي چې د ګوند یووالي ګډوډوي او د ګوند له هغې کړنلارې څخه چې د مرکزي کمیټې په دویم پلینوم کې تدوین شوي سر غړوي د ګوند له اساسنامې سره سم د هغوی د مقام له په پام کې نیولو پرته باید جزا ووینې او له ګوند څخه وویستل شي .
اوس زمونږ په ګوند کې د هغه د پوره یووالي د تامین او ټینګښت له پاره ټول لازم شرایط شته د ګوند غړي په پخوانې کوم اړخ پورې د هغوی د تیر ارتباط له په پام کې نیولو پرته چې په افغانستان کې د انقلابي بدلونونو په لاره کې د رښتینو مبارزینو په توګه یې څرګنده برخه درلوده کولی شي د غچ اخیستلو له ویرې او فشار له ویرې څخه پرته د ګوند او خلکو د ګټو په لار کې په مصئونه توګه کار او مبارزه وکړي.
د مرکزي کمیټې پلینوم د ګوند غړي ګوند نه د نویو ملګرو له هغو څخه د کارګرانو، بزګرانو او د وسله وال پوځ د زړورو سربازانو او نورو زیار ایستونکو طبقو د استازیو د منلو په لاره کې موظف کړل .
دغه راز د ګوند اساسنامه د هر اصلي او ازمایشي غړي له پاره د یوه لوړ قانون په توګه و څیړل شوه .
دغه شان پلینوم څرګنده کړه چې په ګوند کې د ننه او د پرګنو په منځ کې سیاسي او سازماني فعالیتونه پراخه شي باید د ګوند د هر غړي سیاسي شعور لوړ شي او دا ټکي هیڅکله هیر نه شي چې د ګوند قوت د هغه په یووالي او تشکل کې دی او له کلک او وسپنیز انضباط څخه پرته د انقلابي ګوند شته والي ناممکن وی .
د مرکزي کمیټې پلینوم ګوندي کمیټې، وزارتونه او موسسې مؤظفې کړې چې د کادرونو په ټاکلو او انتخابولو کې دی د هغوی یوازې اصلي سیاسي او اداري لیاقت په پام کې ونیسي او د کارونو بې ځایه بدلول، بیروکراتیسم او لیکونو بې ځایه لیږل را لیږل چې اقتصادي چارې په تیره بیا د انقلاب ضد قوتونو پر خلاف د مبارزې مسالې د ګوند او دولتي دستګاه قوت کمزوري کوي له منځه یوسي. باید هڅه وشي چې د ګوند هر غړي په خپل ځای کې د ګوند، انقلاب او خلکو ددښمنانو پر ضد مبارزه کې فعاله برخه واخلي .
وسله وال پوځ د دولتي امنیت او عمومي انتظام مقامات د انقلاب د ارزښتونو په دفاع او د انقلاب ضد باندونو په پوره رانسکورولو کې ټاکونکې رول لري .
د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند د مرکزي کمیټې په پلینوم کې په وسله وال پوځ د دولتي امنیت او ټولنیز انتظام په ارګانونو او د سرتیرو د ژوند په شرایطو او د هغوی د محاربوي وړتیا د سطحې په لوړوالي کې د ګوندي نفوذ او رهبري ښه والي ته کلکه پاملرنه وشوه .
د مرکزي کمیټې په پلینوم کې زیاته شوه د ولایتي ښاري ناحیوي او د ولسوالي ګوندي کمیټې باید د څارندوی د امنیتي ارګانونو د پیاوړتیا له پاره مشخص تدبیرونه ونیسي د ګوند اصلي او آزمایشي غړي او د انقلاب زړور مدافعین دغو موسسو ته د کار له پاره ولیږي .
د انقلاب د ارزښتونو د دفاع د ټولنیز نظام د پیاوړتیا له پاره په مبارزه کې د خلکو ملاتړ او همکاري زیات اهمیت لري له دې امله ولایتي او د ولسوالي کمیټې د کورنیو چارو وزارت د ځوانانو د سازمان اجرائیه کمیټه او والیان باید د انقلاب د دفاع د ډلو جوړولو او د هغوی پوځي ښوونې ته خاصه پاملرنه وکړي . دغه ډلې باید په یو رښتیاني قوت بدلې شي چې وکولای شي د انقلاب ضد پر خلاف له څارندوی سره اوږه په اوږه مبارزه وکړي .
د پرګنو او په تیره بیا د وسله وال پوځ د دولتي امنیت او ټولنیز انتظام د مقاماتو تر منځ د سیاسي فعالیت پراختیا د ګوندي کمیټو او سازمانونو ستري او اساسي وظیفې دي، د سیاسي او تبلیغاتي کار له ټولو لارو چارو څخه په کار اخستلو سره باید سرتیرو او خلکو تر منځ د وطن پالنې لوړه روحیه د ثور انقلاب ایدیالونو ته وفاداري، د انقلاب له دښمنانو څخه کرکه او نفرت

او د انقلاب د ارزښتونو د دفاع له پاره د پیوستون تیاری و روزل شی، په وسله وال پوځ کی خدمت باید د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د هر تبعه شریفه وظیفه وشمیرله شی .
باید هڅه وشی چی ټول پوځیان د ګوند سیاست او د اوسنی حالت ستونزی او له هغو څخه د خلاصون عینی لاری درک کړی هغوی باید زموږ د مبارزی په شریفو او عادلانه هدفونو و پوهیږی او په دی ټکی یوه شی چی زموږ د ګوند او دولت سیاست د اسلام د مقدس دین د اساساتو په اتکا تدوین کیږی له دی امله باید د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د اساسی اصولو او د مرکزی کمیټی د تیزسونو په باب تبلیغ ښه شی ګوند د هیواد له ټولو وطن پالو قوتونو څخه غواړی چی په پوره ویښتیا د دښمن دروغ او د تبلیغاتو سیاسی هدفونه رسوا کړی د هغوی د نفوذ مخه ونیسی دا نور د ګوند او دولت ګډه وظیفه ده .
د افسرانو د روزنی او پالنی ښه والی او د روزنی په کار کی د هغوی فعال ګډون په وسله وال پوځ د دولتی امنیت په مقاماتو د ټولنیز انتظام په ارګانونو کی د سیاسی کار د کیفیت زیاتوالی مهم شرط دی باید د کدرونو د غوره کولو ټاکنی او روزنی حالات ښه شی او په وخت لایق وړ او فداکاری کارکنان په لوړو مقامونو وټاکل شی .
د وسله وال پوځ افسران باید په خپل ځان یی په دایمی توګه سیاسی پوخوالی، انقلاب ته د وفاداری روحیه، ویښتیا، ګوندی ګرانښت، لیاقت، له وظیفی سره مینه او سیاسی او محاربوی لوړ صفتونه او د سربازی له مسلک سره مینه وروزی .
مرکزی کمیټه او د افغانستان دموکراتیک جمهوری حکومت د اردو کادرونو، د دولتی امنیت د مقاماتو د ټولنیز انتظام د ارګانونو درندو مسولینو ته ټینګ پاملرنه کوی . پدی برخه کی له لازمی سختی څخه کار اخلی او د وطن د ساتونکو او په تیره بیا د افسرانو د اعتبار په زیاتوالی او د هغوی د ژوندانه د شرایطو په ښه والی کی لازم کوښښ کوی .
هغه وظیفی چی د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند د مرکزی کمیټی د پلینوم له خوا ټاکل شوی ډیری ستری او له مسوولیت نه ډکی دی ګوندی کمیټی لومړنی سازمانونه او سیمه ییز دولتی مقامات باید خپل ټول سازمانی سیاسی او اقتصادی قوت د هغو د تطبیق په لاره کی په کار واچوی . باید د خلکو ټولو قشرونو، د اردو سرتیرو د دولتی اطلاعاتو خدماتو او د کورنیو چارو وزارت ته د پلینوم د لارښوونو د پراخه ځرګندونی له پاره له ټولو امکاناتو څخه کار واخیستل شی او د هیواد ټول وطن پال قوتونه د هغو د تطبیق په لاره کی تنظیم شی .
د رواجوونکو او ویونکو په شفاهی ویناوو کی باید د انقلاب په اوسنی پړاو کی په هیواد کی د آزادی او دموکراسی ستر کار بریالیتوب بیان شی او د انقلابیونو ضد او د امریکایی، چینایی مدافعینو او د سیمی د ارتجاع وحشیانه ځیری له واقعی پیښو څخه په استفادی سره رسوا شی .
باید زمونږ د انقلاب او د ګوند او د نیکمرغی او ترقی په لاره کی زموږ د خلکو د مبارزی او دافغانستان د دموکراتیک جمهوری حکومت د بهرنی سیاست د سوله غوښتونکو نوښتونو په باره کی حقیقت خپور شی او د داډ ورکړ شی چی زمونږ انقلابی ګوند او پتمن خلک د انقلابی ضد وینی څښونکی باندونه له منځه یوسی.
د دښمنانو پټ سازمانونه به له مینځه یوسی او د نوی او نیکمرغه ژوندانه په لور روښانه لاری پرانیزی.
د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند د کارګری طبقی او ټولو زیارایستونکو مخکښ د وطن پالو سربښندونکو او زړورو انقلابیونو ګوند د انترناسیونالیستانو ګوند زموږ د خلکو د بری ضامن دی زموږ د ګوند او زموږ د هیواد نورو وطنپالو قوتونو قهرمانه او بی امانه مبارزه د شوروی اتحاد او د سوسیالیستی اردوګاه د نورو هیوادو او د نړی د ټولو مترقی قوتونو بیغرضه او د ورورولی مرستی او ملاتړ او دغه راز ټینګ عزم، قاطعیت او د انقلاب او د ړګنو ټینګه وفاداری زموږ د خلکو د بری ضامن ده .

**وړاندی د انقلاب ضد د پوره رانسکورولو په لاره کی د ګوندی او خلکو د تولو قوتونو د تنظیمولو په لور !**

* تایپ کامپیوتری از : ع . ق . فضلی

** تکیه ها از «اصالت» است.

*** هر نوع استفاده از « سومین پلینوم کمیته مرکزی ح.د.خ.ا» صرف با ذکر منبع و نام سایت «اصالت» مجاز است !

www.esalat.org